د لوړو زده کړو وزارت
فراه د لوړو زده کړو مؤسسه

د لوړو زده کړو وزارت
کندهار پوهنتون

# د کندهار پوهنتون او د فراه د لوړو زده کړو مؤسسې ترمنځ د ګډو همکاریو هوکړه لیک

کال: ۱۴۰۲ هـ. ش، مطابق ۱۴۴۵ هـ. ق.

Scanned with CamScanner

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

دا تفاهم لیک د کندهار پوهنتون او د فراه د لوړو زده کړو مؤسسې ترمنځ د علمي فعالیتونو او ګډو همکاریو د تر سره کولو په موخه لاسلیک کیږي.

**سریزه**

ددې هوکړه لیک مبنی دا قول د الله جل جلاله دی چې فرمایې ( {وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَى وَلَا تَعَاوَنُوا عَلَى الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ المائدة :2]). په دې آیت کې الله جل جلاله خپلو بنده ګانو ته دا ښیې چې په ښو او نېکو کارونو کې یو له بل سره مرسته او همکاري وکړئ، ځکه دنیوي کارونه د تعاون او همکاري څخه پرته سر ته نه رسیږي. انسانان په دې دنیا کې حتمي یو بل ته احتیاج پیدا کوي او یوازې الله جل جلاله دی چې چاته نه محتاج دی او بې نیاز دی. دې اصل ته په کتو سره کندهار پوهنتون غواړي د فراه د لوړو زده کړو مؤسسې سره د دوه اړخیز د همکاریو تړون لاسلیک کړي. تر څو وکولای شي له دې لاري یو له بل سره د تقوی او بِر په کارونو کې مرسته او همکاري وکړي.

د تفاهم لیک موارد په لاندې ډول دي:

**د هوکړه لیک اړخونه:**

**لومړی ماده:**

دا هوکړه لیک د کندهار پوهنتون او د فراه د لوړو زده کړو مؤسسې ترمنځ لاسلیک کیږي، له دې وروسته ددوی لپاره (دواړه لوري) لفظ کارول کیږي.

**د هوکړه لیک موخې او اهداف**

**دویمه ماده:**

د واړه لوري په دې موافقه لري، چې د دوه اړخیزو ګټو په نظر کې نیولو سره د تحصیل، تضمین کیفیت او علمي تحقیق د تبادلې د فعالیتونو په زیاتوالي کې یو له بله سره همکاري وکړي. دواړه لوري به د خپل رسالت او اهدافو مطابق په ساحو کې فعالیتونه

Kandahar University



Scanned with CamScanner

ترسره کوي. دا هوکړه لیک د دواړو لوریو یو عمومي چوکاټ دی او د راتلونکو خاصو مجالسو او پروګرامونو د سهولت او همکاري په اراده لاسلیک کیږي.

## کندهار پوهنتون به په لاندي برخو کې همکاري کوي:

**دریمه ماده:**

کندهار پوهنتون به ددې تفاهم لیک په اساس په لاندي ډول همکاري کوي:

1. کندهار پوهنتون به د فراه د لوړو زده کړو مؤسسې د شرعیاتو پوهنځي د علمي کادر غړیو ته به د کندهار پوهنتون د شرعیاتو د فوق لیسانس برنامه کې د ګډون چانس ورکوي.
2. د کندهار پوهنتون به د فراه د لوړو زده کړو مؤسسې اړوند استادانو د علمي مقالو په لیکنه او تائید کې د اصولو سره سم مرسته کوي.
3. دا چې هر پوهنتون د خپلې علمي مجلې له لاري د خپلو استادانو علمي اثارو نشرولو لپاره خاص تائید شوي اصول لري، نو د همدې تفاهم په اساس به د کندهار پوهنتون د خپلې علمي مجلې او ژورنال د اصولو په رڼا کې فراه د لوړو زده کړو مؤسسې اړوند استادانو علمي مقالې د کندهار پوهنتون په علمي مجله کې نشروي.
4. د کندهار پوهنتون به فراه د لوړو زده کړو مؤسسې د استادانو لپاره د OBE_SCL او نورو لازمو ورکشاپونو زمینه برابروي او همدارنګه به د فراه د لوړو زده کړو مؤسسې څلور تنه کادري غړي د OBE_SCL په برخه کې د ټرینرانو په سویه روزي.
5. د کندهار پوهنتون به د فراه د لوړو زده کړو مؤسسې سره د تضمین کیفیت او اعتبار ورکونې په پروسه کې هر اړخیزه مرسته کوي.
6. د کندهار پوهنتون به د فراه د لوړو زده کړو مؤسسې د استادانو د علمي ترفیعاتو او د استادانو د تقرر او انفکاک د دوسیو په برخه کې لازمه اصولي همکاري کوي.
7. د کندهار پوهنتون به د فراه د لوړو زده کړو مؤسسې د اړتیا په صورت کې د ذکر شوی مؤسسې محصلانو ته د ویډیو کنفرانس په واسطه په تدریسي او عملي چارو کې مرسته کوي.
8. د کندهار پوهنتون به په خپلو ملي کنفرانسونو او پروګرامونو کې فراه د لوړو زده کړو مؤسسې یو شمېر پرسونل ته د ګډون بلنه ورکوي.
9. د کندهار پوهنتون به د فراه د لوړو زده کړو مؤسسې اړوند د لابراتوارونو تکنیشنان د هغوی د درشتي مطابق روزي ( د دواړو لوریو په موافقه او امکاناتو ته په کتو سره).



Kandahar University

Scanned with CamScanner

10. د کندهار پوهنتون به فراه د لوړو زده کړو مؤسسې ته د خپلې الکترونیکې کتابخانې څخه د استفادې لپاره په زمینه برابرولو کې مرسته کوي.

11. د کندهار پوهنتون به فراه د لوړو زده کړو مؤسسې په نوبت د مسلکي پرمختیایي مرکز (PDC) لپاره د اړینو مسلکي ورکشاپونو په ورکړه او د موادو په برابرولو کې همکاري کوي.

## فراه د لوړو زده کړو مؤسسه به په لاندې برخو کې همکاري کوي:

**خلورمه ماده :**

فراه د لوړو زده کړو مؤسسه به ددې تفاهم لیک په اساس به لاندې مسؤولیتونه لري

1. فراه د لوړو زده کړو مؤسسه د خپلې علمی مجلې د اصولو په رڼا کې د کندهار پوهنتون اړوند استادانو علمي مقالې د فراه د لوړو زده کړو مؤسسې په علمي مجله کې نشروي.
2. که چیرې د کندهار پوهنتون رهبري وغواړي څو په فراه کې په کومه برخه باندې تحقیق تر سره کړي، نو په هغه صورت کې د فراه د لوړو زده کړو مؤسسې د ټولو تحقیقاتي امکاناتو څخه استفاده کولای شي.
3. فراه د لوړو زده کړو مؤسسه کولای شي د دې زون له ټولو پوهنتونونو څخه چې کندهار پوهنتون ورسره تفاهم لیک لاسلیک کړی وي، د همکاریو څخه استفاده وکوي.
4. فراه د لوړو زده کړو مؤسسې د ټولو پوهنځیو اړوند مسلکي پرسونل به د کندهار پوهنتون د ټولو هغه پروګرامونو په تطبیق کې مرسته کوي کوم چې د کندهار پوهنتون لخوا په فراه ولایت کې پلي کیږي.
5. دا چې فراه ولایت د ځینو کرنیزو محصولاتو اصلي ټاټوبی دي، نو د کندهار پوهنتون په غوښتنه به فراه د لوړو زده کړو موسسه د همدې کرنیزو نباتاتو په اړه د معلوماتو په راټولولو کې مرسته کوي.
6. فراه د لوړو زده کړو مؤسسه به د امکان تر بریده د خپلو اړوندو څېړنو معلومات د کندهار پوهنتون سره شریکوي.
7. که چیرې فراه د لوړو زده کړو مؤسسه د هیواد په سطحه کوم پروګرام جوړوي، نو د کندهار پوهنتون استازو ته به د ګډون بلنه ورکوي.

## د دواړو لوریو ګډ مسؤولیتونه

**پنځمه ماده:**



Kandahar University

Scanned with CamScanner

1. د کندهار پوهنتون او فراه د لوړو زده کړو مؤسسه به په دواړو پوهنتونونو کې د یوې مشترکې څیړنیزې ساحې پر تشکیل ګډ کار کوي.

2. د کندهار پوهنتون او فراه د لوړو زده کړو موسسه به د لوړو زده کړو وزارت په تایید په مشترکو څیړنیزو ساحو کې په ګروپي ډول تحقیقات ترسره کوي.

3. د امکان په صورت کې به دواړه لوري کوښښ کوي ترڅو په مشترک ډول په علمي او اداري برخه کې ځینې ضروري ورکشاپونه ترتیب کړي.

4. د ضرورت په اساس دواړه کولای شي ترڅو د مؤقت وخت لپاره د یو بل له ماشین الاتو او لابراتواري توکو څخه استفاده وکړي.

5. دواړه لوري به یو دوه اړخیزه د همکاري شورا یا مجلس تأسیسوي او د دواړو خواوو استازې به په کې برخه لري. (دا مجلس به څلور غړي ولري چې دوه غړي به د کندهار پوهنتون او دوه غړي به فراه د لوړو زده کړو مؤسسې څخه وي) دا څلور کسیزه مجلس به د دې هوکړه لیک د اجراء مسؤولیت ولري او پر خپل وخت به د قوانینو په رڼا کې اجراآت کوي همدارنګه د دې هوکړه لیک د پرمختګ څارنه به کوي، او د ا مجلس به د شرایطو او ضرورتونو مطابق جوړیږي.

**همغږي او تطبیق:**

**شپږمه ماده:**

1. د هري کړنې او پروګرام د ترسره کولو لپاره د اړتیا وړ مصارف د دواړو لوریو په تفاهم او توافق د هغه لوري دنده ده چې غوښتنه یې کړې وي، او یا هم د لوړو زده کړو وزارت د لوایحو او اصولو سره سم په رسمي ډول د اړوند پوهنتون له لوري ورکول کیږي.

2. ددې هوکړه لیک په تطبیق کې باید دواړه لوري د هري کړنې معلومات چې تر سره کیږي، د ټاکل شویو اشخاصو په ذریعه ترسره او یو له بل سره شریک کړي.

3. کومه کړنه چې تر سره کیږي، د دواړو لوریو د مشرانو او مسؤلینو په تفاهم به تر سره کیږي.

4. د یوې اداري د دوهم نوم د استعمال په وخت کې هره اداره مکلفه ده، چې د هغه بلې اداري مشوره او تائید واخلي او همدارنګه عالي رتبه استادانو یا د پوهنځي د غړو د فعالیتونو د نتایجو خپرولو لپاره د دوهم نوم استعمال هم د دې تفاهم نامې لاندې باید د دواړو طرفینو تائید موجود وي.



Scanned with CamScanner

5. دا تفاهم نامه به د افغانستان د اسلامي امارت د قوانینو او پالیسیو په اساس ولاړه وي.
6. دواړه لوري به یو د بل سره مشوره کوي او کوښښ به کوي چې کومه لفظي ستونزه یا غلط فهمي چي ددې تفاهم نامې د پلي کېدو په جریان کې راځي، په ښه شکل سره حل کړي.

**د معنوي دارایې حقوق**

**اوومه ماده:**

1. که چیرې کندهار پوهنتون د استادانو او محصلانو او یا هم فراه د لوړو زده کړو مؤسسې د استادانو لخوا یا محصلانو له خوا کوم فعالیت ترسره کیږي، له نتایجو څخه به یې دواړه لوري استفاده کوي او دواړه پوهنتونونه یې د سوداګري کولو حق لري. (البته د هغه بل پوهنتون موافقه شرط ده!)
2. په هغه صورت کې چي یو تحقیق د یادو پوهنتونونو څخه په شخصي او تنهایې ډول سر ته ورسېږي او یا د تحقیق نتایج د یو خاص شخص په واسطه ترلاسه شي، د IPR (Intellectual Property Right)حق او امتیاز یوازي د هغه ادارې په برخه دی.
3. په هغه صورت کې، چي د یو تحقیق نتایج او یا هم کوم بل اکاډمیک پروګرام په ګډه د دواړو پوهنتونو د فعالیتونو په نتیجه کې سرته ورسېږي، نو د دواړو پوهنتونونو ګډ امتیاز دی او که چیرې یو وخت امتیاز ورکول کیږي، نو دواړه لوري د امتیاز حق لري.
4. هره خپرونه، سند، او کومه لیکنه چي د برخه والو د ګډې همکارې په واسطه انجام مومي، نو د دې تفاهم نامې مطابق به ترسره کیږي.
5. د هرې خپرونې، سند او یا لیکنې لپاره د نوم ، لوګو او یا بله کومه رسمي علامه استعمالیږي، د دواړو ادارو اجازې ته ضرورت دی، د دې لپاره چي د لوګو او نوم څخه غلطه استفاده ونشي.

**د هوکړه لیک پیل، دوام او لغو کېدل**

**اتمه ماده:**

1. د غه تفاهم لیک د لاسلیک له نېټې څخه وروسته د پنځو (5)کالو لپاره د اعتبار وړ دی، د دواړو لوریو سره په تفاهم د بیا ځلي لپاره هم نوی کېدای شي.
2. دواړه لوري دوه اړخیز حق لري، چې د دې تفاهم نامې شرایط په لیکلي ډول تصحیح کړي.
3. د دې تفاهم نامي ختم، تصحیح او تر وخت تېرېدل به پر جاري فعالیتونو کومه اغېزه و نکړي او د تفاهم نامې ختم، تصحیح او تر وخت تېرېدل د دواړه پوهنتونونو په موافقه پورې اړه لري.
4. که تفاهم لیک لغو کیدل، نو دواړه لوري دي یو بل ته لږ تر لږه دوه میاشتني مخکې خبر ورکړي.



Kandahar University

Scanned with CamScanner

**شکایت**

**نهمه ماده:**

د دواړه لوري د هر عمل، تصویب او مربوطه کړنو او روزنو انجام د قانون په رڼا کې د دې تفاهم نامې لاندې راځي او همدارنګه د هرې لایحې رهنما او معلومات به عالي رتبه شخص ته ورکول کیږي.

دا تفاهم لیک په ۲۰ / ۹ / ۱۴۰۲ هـ. ش. مطابق د ۲۸ / ۵ / ۱۴۴۵ هـ. ق. نېټه په دوو اصلي متنونو کې چې دواړه متنونه په یو ډول محتوا او متن او اعتبار لري، تر سره شو.

د کندهار پوهنتون رئیس

مولوي صاحب اکرم شاه عاصم

د فراه د لوړو زده کړو مؤسسې رئیس

مولوي صاحب سمیع الله حقاني